السنّة النبوية وعلومها
www.sunnah.global

# هُوَ الطَّهُورُ مَاؤُهُ، الحِلُّ مَيْتَتُهُ». « اوبه يې پاكې او مرداره يې حلاله ده

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايې چې: يو سړي له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه ويې ويل: ای د الله رسوله! مونږ په بحر کې سفر کوو، پداسې حال کې چې لږې اوبه راسره وي، نو که چېرته پرې اودس وکړو تنده مو وهي، نو آیا د بحر په اوبو اودس وکړو؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: «هُوَ الطَّهُورُ مَاؤُهُ، الحِلُّ مَيْتَتُهُ». « اوبه يې پاكې او مرداره يې حلاله ده».

[صحيح]

يو سړي له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه، ويې ويل: اې د الله رسوله! مونږ په بحري کښتيو کې د ښکار، سوداګرۍ او نورو موخو لپاره سپرېږو او د څښاک لپاره لږې اوبه راسره اخلو، نو که د اودس او غسل لپاره د څښاک اوبه وکاروو، اوبه خلاصېږي او د څښاک لپاره يې بيا نه شو موندلی، نو آيا مونږ ته روا دي چې د بحر په اوبو اودس وکړو؟ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم د بحر د اوبو په اړه وفرمايل چې: اوبه يې په خپل ځان کې پاکې او نورو شيانو لره پاکوونکي دي؛ نو اودس او غسل کول دواړه پرې روا دي، او هغه څه چې ترې له ماهيانو او کبانو او داسې نورو ځيزونو څخه راوځي حلال دي، که څه هم له ښکار پرته مردار شوي وي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/8355

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee